**بسم الله الرحمن الرحیم**

# د کورونا ویروس پایلې

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

چین په لومړي ځل د ۲۰۲۰م کال د جنوري میاشتې په ۴مه نېټه په ځانګړي توګه په ووهان ښار کې پر کورونا د لسګونو خلکو د اخته کېدو خبر ورکړ او د دې ویروس نوم یې کوید ـ۱۹ کېښود، وروسته په تلو تلو کې یې نړدې د نړۍ ټول دولتونه ونیول. ډېرو دولتونو خپلې پولې وتړلې او په ټک راټک یې بندیز ولګولو. وروسته د جمعې او جماعت پر لمونځونو هم د بندیز خبر ورکړل شو. دغه ناروغۍ نړیوال اقتصاد ته ټکان ورکړ او امریکا او چین پر یو بل د تورونو لګول پیل کړل.

کومې پوښتنې چې مطرح کېږي هغه دا دي چې د دغه ساري ناروغۍ سرچینه څه شی ده؟ پر نړیوال اقتصاد یې عملي اغېزه څه ده؟ د دغه ناورین د درملنې سمه لاره کومه ده او دا چې ایا روا ده چې د جمعې او جماعت پر لمونځونو باندې د دغه ناروغۍ له امله بندیز ولګېږي؟

**ځواب:**

د دغه ناروغۍ انګریزي نوم (Crown)دی چې په پښتو کې «تاج» ورته ویل کېږي، په دې دلیل سره چې میکروسکوپي شکل یې تاج ته ورته دی. دغه ناروغۍ په ۱۹۶۰م کال کې د فېبریدي کورونا په نوم کشف شو. په ۲۰۰۳م د همدې کورنۍ څخه یو بل ویروس د سارس په نوم په هانکانګ سیمه کې ښکاره شو چې ۸۴۲۲ کسان پرې اخته شوي و چې له دې ډلې ۹۱۶ کسان مړه شول. په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵م کې له هغوی څخه نوي سلولونه ښکاره شول، په وروسته کلونو کې، په ځانګړي ډول په ۲۰۱۲م او ۲۰۱۴م کې هم بېلا بېلې بڼې راڅرګندې شوې؛ خو په لږ توپیر سره په ځینو سیمو کې. بلاخره یو ځل بیا د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر په لومړیو کې و د چین په ووهان ښار کې چې له سارس ویروس سره یې ۹۶٪ ورته والی درلود راڅرګند شو. د هغه نوم یې (۲۰۱۹ کورونا» کېښود او په لنډه توګه په ۲۰۱۹م کال کې د پیدایښت له امله یې کوید ـ ۱۹ بولي. لومړني کسان چې پرې اخته شول په ووهان ښار کې هغه کسان وو چې په ځانګړي ډول د بحري او حیواني خوړو پر پېر او پلور بوخت وو او وروسته د چین ډېرو ګاونډیو هېوادونو ته ولېږدول شو. دغه ویروس د تاج لرونکي شب پرک ویروس ته ورته دی چې دا خپله ښیي چې ډېر احتمال لري دا ویروس د شب پرک حیوان له امله رامنځته شوی وي. پر دغه ناروغۍ د اخته کسانو مړینه په تلو تلو کې ډېره شوه، پر دغه ویروس ډېری اخته کسان په چین کې وو چې شمېر یې له ۸۱۱۹۳ کسانو زیات شو، او همداسې یې د مرګ ژوبلې شمېر له ۳زرو څخه ډېر شو. له چین څخه وروسته په دې ناروغۍ د ایټالیا د وروسته ایران، اسپانیا، فرانسه او امریکا خلک پرې اخته شول. د دې ویروس د خپرېدو له امله ټوله نړۍ ډار او وېرې په سر واخیستله چې د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۲۴مه په دې ویروس د اخته کسانو شمېر ۴۰۴زرو ته ورسېد او د دې ناروغۍ له کبله د مړو شمېر ۲۰زرو کسانو ته ورسېد (سرچینه: دویچ ویله ۲۰۲۰م کال د مارچ ۲۵مه). انتونیو ګوتیریش د ملتونو سازمان سرمنشي وویل: «که چېرته د کوید ـ ۱۹ وبا د خپرېدو مخه ونه نیول شي ښایي میلیونونه کسان ووژني» (سرچینه: یورو نیوز ۲۰۲۰م کال د مارچ ۱۹مه). په همدې دلیل

سره ډېرى دولتونو ښوونځي، پوهنتونونه او تجمعاتو باندې بنديز ولګولو او د تګ راتګ او همدا راز د جمعې او جماعت د لمونځونو د بنديدلو غوښتونکي شول. چې دغه بدلونونه تفصيل ته اړتيا لري:

لومړى: ايا دغه ناروغى د کوم چا له خوا جوړ شوى او يا هم لکه د نورو ناروغيو په څېر الهي قضا ده چې د خلکو د اعمالو له امله پر دوى راغلې ده؟

دويم: ايا پانګوال نظام دغه ستونزه په سمه بڼه حل او فصل کړې ده؟ او دا چې په داسې مسايلو کې شرعي معالجه څه ده؟

دريم: د دغه ناروغۍ «کرون» اغيزه پر نړيوال اقتصاد او د نفتو پر بيه څه ده؟

څلورم: ايا روا ده چې د دغه ناروغى له امله د جمعې او جماعت پر لمونځونو بنديز ولګول شي؟

**لومړى: د دغه ناروغى پيدايښت او دا چې څوک يې تر شا لاس لري؟**

۱ـ د کورونا «کويد ـ۱۹» د خپرېدلو پيل له چين څخه و او علمي او روغتيايي څېړني ادعا کوي چې له حيواناتو څخه انسان ته يې سرايت کړى دى، ځکه چې په چين کې خلک معمولاً د هر ډول حيوان، حتى خبيثه حيواناتو څخه ځان ته خواړه برابروي، ځکه چې هغه بت پرست کفار دي او د طيب او خبيث پر توپير نه پوهيږي. لکه څرنګه چې مخکې اشاره وشوه؛ رسنيز راپورونه ښيي چې د ووهان ښار د همدې خبيثه غوښو سوداګريز مرکز بلل کېږي او همدا ښار و چې دغه ناروغي ترې پورته شوه. په دې ډول د کورونا ناروغي له چين څخه خپره شوه او وروسته د راه آهن شرکت د چيني کارګرو له خوا چې د قم ښار کې د لارې پر جوړولو بوخت وو، ايران ته ولېږدول شوه او په منځني ختيځ کې ايران د دغه ناروغى د خپرېدو مرکز بلل کېږي. همدا راز ايټاليا د چين له زيربنايي برخو نېولې تر لېږد رالېږد توکو پورې يې د پانګه اچونې پر مخ دروازې پرانېستي وې او راپورونه ښيي لومباردي او توسکانا دوې سيمې دي چې هلته چين ډېره پانګه اچونه کوي او په عين حال کې دغه سيمه لومباردي وه چې د تېرې فبروري مياشتې په ۲۱مه پر کورونا د اخته کس په لومړى ځل پکې وپېژندل شو او همدا سيمه تر اوسه پورې تر ټولو ډېره د اخته کسانو شاهده ده.

۲ـ امريکا، چين د دغه وبا د مخنيوي سره په مبارزه کې د پاتې راتللو او د پيدايښت پر وخت د پټ ساتلو له امله ګرم وبللو. شاولي جيان د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند د امريکا دغه عمل په سختو ټکو وغندلو او د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۱۳مه يې پر خپل ټوېټر پاڼه وليکل: «ښايي دا د امريکا پوځ وي چې د کورونا ويروس يې د چين ووهان ښار ته راوړ». (سرچينه: الشرق الأوسط د ۲۰۲۰م کال د مارچ ۱۳مه). د امريکا ولسمشر ټرمپ د د غه غبرګون له امله بيا خپل د خبرو بريد وکړ او تکرار يې کړه: «نړۍ په ځانګړي ډول د نوي کورونا په اړه د چين د معلوماتو د ځنډ له امله ستره بيه ورکوي». (سرچينه: يورو نيوز د ۲۰۲۰م کال د مارچ۱۹مه)

ټرمپ همدا راز د کورونا ويروس په هغه ټوېټ کې چې د مارچ په ۱۶مه يې کړى و «چيني ويروس» وبللو: «امريکا چې د چيني ويروس څخه ډېره اغزمنه شوې ده ډېره مرسته به وکړي، لکه د هوانوردۍ په برخه کې».

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۱۷مه داسې ځواب ورکړ: «دغه نظر د چین ځېره ناسمه انځوروي، موږ سخت په غوصه یو او په شدت سره یې ردوو» (سرچینه: ننۍ روسیه د ۲۰۲۰م کال د مارچ ۱۸مه). کله چې چین د تور لګولو پر خپرېدو پیل وکړ چې د دې کار تر شا د امریکا لاس دی، امریکا د چین سفیر د ۲۰۲۰م کال د مارچ په ۱۳مه راوبللو او د امریکا د بهرنیو چار وزرات مسوول وویل: «له دسیسې د ډکو نظرونو خپرول ډېر خطرناک دي. موږ غوښتل چې د چین هېواد ته اخطار ورکړو چې په ټوله نړۍ کې د چین د خلکو د مصلحت لپاره به موږ د دغه اخطارونو څخه بې پروا نه شو. چین غواړي په نیوکو سره  په ځانګړي ډول د دغه وبا خپرېدل وپوښي». د شینخوا اژانس ټینګار وکړ: «هغه ګامونه چې پکن واخیستل، د میلیونونو کسانو قاطع او جدي قرنطین کېدلو په شمول، نړۍ ته یې «قیمته فرصت» ورکړ تر څو یې چمتووالی ونیسي او دا هغه څه دي چې نړیوال سازمان پر هغه اعتراف کوي» سرچینه: ننی روسیه د ۲۰۲۰م کال د مارچ ۱۵مه).

په دې ډول د امریکا او چین ترمنځ د Covid19 – SARS CoV2 د ویروس د خپرېدلو پر سر باندې لفظي جګړه پیل شوې ده او دواړه لوري یو بل د ویروس پر مستقیم خپرواي باندې تورنوي. که څه هم  په امریکا او چین کې پلې کېدونکو نظامونو ته پر کتلو سره دا هرڅه امکان لري اما له ځېړنو وروسته هم کوم داسې ثبوت شتون  نه لري چې پر امریکا یا چین دې د ویروس جوړولو او یا نورو سیمو ته د لېږد تور ثابت کړي. دوه دلیله شتون لري:

**اول:** په دغو دواړو دولتونو کې دغې ناروغۍ ښه زور اخیستی:په چین کې د ذکر شوو معلوماتو پر اساس ۸۱۲۷۲ کسه پر دغه ویروس باندې اخته شوي او ۳۲۷۳ تنو نورو بیا خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. دغه ارقام د چین د روغتیا د ملي کمېټې لخوا خپاره شوي. (سرچینه: ۲۰۲۰م کال، مارچ ۲۳مه)

که چېرته چین د دغه ویروس د خپرېدلو په هڅه کې وو نو لږ تر لږه خپل ځان خو یې باید د دغه ویروس پر وړاندې خوندي کړی وای.

"CNN Health" لخوا نشر شوی راپور ښیي چې دغه ویروس په امریکا کې ۷۰۴ تنه وژلي او ۵۲۹۷۶ تنه نور پرې اخته شوي دي. (سرچینه: ۲۰۲۰م کال، مارچ ۲۵ مه سي ان ان عربي)

امریکا په دغه ویروس باندې د اخته شوو کسانو د ارقامو له مخې له چین او ایټالیا وروسته دریم ځای لري. ددې ترڅنګ د وروستیو پرېکړو پر بنسټ په اوو ایالتونو کې دریمه برخه امریکایان اړ شوي چې په خپلو کورونو کې پاتې شي او د  نیویارک، کالیفورنیا، الینوی، کونیتیکت او نیوجرسی څخه وروسته په لویزیانا او اوهایو کې تېره ورځ پر ګرځېدلو باندې پراخه بدېزونه  ولګول شول.  (سرچینه:الجزیره: ۲۰۲۰ م کال، مارچ ۲۳ مه)

نو که چېرته امریکا د دغه ویروس د خپرېدلو په هڅه کې وه نو لږ تر لږه خپل ځان خو یې باید ددغه ویروس پر وړاندې خوندي کړی وای.

**دویم:** په دغه دوو  هېوادونو کې د ویروس د جوړولو ادعا سمه نه ده، ځکه هېڅ داسې ثبوت نه شته چې دا په ډاګه کړي چې دغه ویروس د په کوم لابراتوار کې جوړ شوی وي. د (nature Medicine) مجله کې راغلي: «د تاج لرونکي ویروس په جوړښت کې د موجودې جنیتیکي سلسلې د پرتلې پر بنسټ په ډاډ سره

ویلی شو چې دغه تاج لرونکی ویروس په یوه طبیعي پروسه کې رامنځته شوی دی.» یاده مجله همدارنګه زیاتوي چې:«د ویروس د ملا د تیر او د ویروس د سلولي جوړښت په هکله معلومات د دغې نظریې په تایید کې پوره مرسته کوي او هر کله چې یو څوک وغواړي دا ډول ویروس په لابراتوار کې جوړ کړي نو د هغې د مصنوعي جوړېدلو نښې د ویروس د ملا په تیر کې معلومېږي.» (سرچینه: .(https://www.npr.org

دا مسله د روسیې، اروپا، ایران او ډېری اسلامي هېوادونو په څېر هر بل هېواد باندې هم تصدیق کېږي، ځکه په غالب ګمان سره دغه ټول هېوادونه له چین او یا امریکا څخه د دغه ویروس د لېږد په خاطر اغېزمن دي.

ځکه خو له هغه څه پرته چې الله سبحانه وتعالی په قرانکریم کې ورته اشاره کړې بل هېڅ دلیل نه پاتې کېږي:

**﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾**

[الروم: 41].

***ژباړه:*** *په وچه او لمده کې د خلکو د لاسونو پر عملونو سره فساد ښکاره شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی پر دوی باندې د هغو عملونو د سزا خوند څکي چې دوی ترسره کړي دي، ښایي چې دوی رجوع وکړي.*

ټول پوهېږي چې کپیټلستانو او ملګرو یې نړۍ له پراخې ګډوډۍ سره مخ کړې ده ځکه دوی له خپلې ګټې پرته بل هېڅ شي ته ارزښت نه ورکوي. د امریکا، چین، روسیې اروپا او ... حاکمان د خپل ځان او خپلو خلکو د بدبختیو اصلي عاملین دي. د بشر پر وړاندې د دوی جنایتونه بې شمېره دي، دوی د نړۍ تر ټولو بې وسه خلکو باندې، اتومي، یورانیمي او سوزونکي بمونه وکارول، دوی په وحشیانه ډول له افریقایي قبایلو څخه خپل غلامان جوړ کړل او له دوی څخه یې د خپلې بیولوژیکي او کېمیاوې ټکنالوژۍ د لابراتوار په توګه کار واخیست. د هند د سور پوستو د له منځه وړلو جګړې د دوی پر تندي باندې د بدنامۍ تور داغ دی، د ایغور د مسلمانانو پر وړاندې د چین جنایتونو ټول اسمان پوښلی، په منځنۍ اسیا کې د مسلمانانو پر وړاندې د روسانو او صربیانو د جنایتونو ترخې خاطري لاهم تکرارېږي. دغه جنایات په ډاګه کوي چې اوسني حاکمان چې د نړۍ د ملتونو پر سر یې پښې ایښې خپله د بشریت د ټولو بدبختیو اصلي عاملین دی، لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَالَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ هَؤُلَاءِ سَيُصِيبُهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوا وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِينَ﴾**

[الزمر: 51]

***ژباړه:*** *او بیا هغوی د خپلې ناوړه ګټې پایلې وزغملې، او له دغه خلکو څخه هم چې څوک ظالمان دي هغوی به هم ډېر ژر د خپلې ناوړه ګټې پایلې و ګالي، دوی زموږ عاجزونکي نه دي.*

**دویم: د دغې ستونزې د حل په اړه کپیټالېزم لا هم اشتباه کوي، ځکه اصلي نسخه شرعي حللاره ده**

کپیټالېستانو او د هغوی ملګرو په دریو پړاونو کې ددغې ستونزې حلولو ته را دانګلي دي:

**لومړی**: د ستونزې نه په ډاګه کول:

**۱.** په چین کې په يو خپور شوي راپور کې راغلي چې د چین د دولت چارواکو د دغې وژونکې ناروغۍ په اړه د ۲۰۱۹ م کال د دسمبر  میاشت څخه وړاندې خبر درلود خو دوی نړۍ د هغه له واقعیت څخه پر وخت نه ده خبره کړې، دوی د کال په وروستیو کې کله چې پر دغه ناروغۍ باندې د اخته شوو کسانو شمېر زیات شو د ویروس پر خپرېدو باندې اعتراف وکړ. یو چینایي-امریکاي خبریال "شانګ وی وانګ" تایید کړې چې چینایي چارواکو د ووهان په ښار کې د سمندري غذا د خرڅلاو بازار تر جنوري پورې ونه تاړه. دا هغه ښار و چې ویروس په کې خپور شوی وو. په دغه راپور کې همدارنګه راغلي چې ۸ کسه چینایي ښاریان د ویروس د خپراوي په پیل کې د مالوماتو په تبادله کولو سره په دې تور نیول شوي وو چې ګواکې دوی د ناموثقو مالومات په خپرولو سره له قانون څخه سرغړونه کړې ده. ده زیاته کړې چې د ووهان ښار محلي چارواکو د ستونزې په طبیعي ښودلو سره د جنوري په ۱۸ مې دودیز مراسمو ته اجازه ورکړې وه چې شاوخوا ۴۰ زره کورنۍ په کې برخه اخلي.(سرچینه: ۲۰۱۰م د فبرورۍ ۱)

۲. چینایي چارواکو خپل خلک د یاد ناروین څخه بې خبره ساتلي وو، دوی هغه وخت خبر شول کله چې بیجینګ یاده مسله د دسمبر په ۳۱ مه د نړۍ روغتیاي سازمان ته وړاندې کړه. د چین حکومت په هغه وخت کې وویل: کولی شي د دغې ناروغۍ درملنه وکړي او هغه کنټرول کړي. د جنوري په ۲۳ مه  چارواکو د ووهان ښار وتاړه او پرېکړه یې وکړه چې هېڅ کس د تګ راتګ اجازه نه لري. (سرچینه: مصراوی ۲۰۲۰ م کال د مارچ ۲۳ مه)

**دویم:** قرنطین او جزیی محدودیت:

۱. «د متحده ایالتونو د عامې روغتیا مسوولینو د شنبې پر ورځ د کورونا ویروس نوې اته پېښې ثبت کړې. د امریکا دفاع وزارت ویلي چې د هغو کسانو لپاره ځانګړی ځای چمتو کړي چې له بهر څخه راځي او حالت ته یې په کتو سره باید قرنطین شي. د ووهان ښار او ټول هوبې چې د چین په منځ کې موقعیت لري او ویروس پکې ښکاره شوی عملا قرنطین شو»(سرچینه: اسکای نیو عربی ۲۰۲۰ د فبرورۍ ۱۲مه)

۲. د امریکا د نیویارک ایالت مشر اندروکومو وویل: « موږ په قرنطین کې یو. هغه ټینګار وکړ چې تر ټولو شدید ګامونه به واخیستل شي. په نیویارک، کالفورنیا، نیوجیرسی او ایلینوی کې په قرنطین سره اوس مهال ۸۵ میلیونه کسان په خپلو کورونو کې قرنطین دي. یوازې پلورل او پېرل استثنا دي». (سرچینه: دویچ ویله ۲۰۲۰ د مارچ ۲۱مه)

**دریم:** په کورونو کې پاته کېدل

« د نړۍ سلګونه میلیونه خلک اوس مهال په خپلو کورونو کې بند دي په دې هیله چې د کورونا ویروس له پراختیا څخه مخنیوی وکړي، هغه ویروس چې تر اوسه یې ۱۱۰۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اړولي. د بشر په تاریخ کې دا بې ساری ګام په بېلابېلو ځایونو کې په بېلو کچو اخیستل شوی.  له ۳۰ زیاتو دولتونو کې تر ۸۰۰ میلیونه زیات انسانانو څخه غوښتنه شوې چې خپلو کورونو کې پاته شي او دلیل یې عام قرنطین یا هم توصیه او یا هم د ګرځېدلو منع کېدل دي. څرنګه چې په المان کې مسوولین په دې بوخت دي چې خلک دې ته اړ کړي چې خپلو کورونو کې پاته شي او عامه ژوند محدود کړي. ایټالیا د دې ویروس له امله په اروپا

کې زیاته خساره ولیده او ۴ زره کسانو ته یې مرګژوبله واوښته او په دې لویه وچه کې دا لومړی هېواد وو چې خپل ټول خلک یې قرنطین کړل او د دې ویروس له پراختیا څخه د مخنیوی لپاره یې ګامونه اوچت کړل. ایټالیا د دې ویروس له امله په ۲۴ ساعتونو کې د ۶۲۷ کسانو د مرګژوبلې له اعلان وروسته ټول تفریحي ځایونه د اونۍ د رخصتۍ په پای کې په بشپړه توګه بند کړي. نور محدویتونه هم لګوي چې خلک په کورونو کې پاته شي.» (سرچینه: دویچه ویله ۲۰۲۰ د مارچ ۲۱مه)

دې درېیو معالجو ته په کتو سره په ډاګه کیږي چې ستونزه نه حل کوي او اقتصادي لړۍ لا د ناکامۍ پر لور بیایي او د دې ناروغۍ حجم او همداسې د خلکو د رنځ او درد څو برابره زیاتوي ځرنګه چې له داسې حالتونو څخه په پانګوالۍ ټولنو کې ډېر معلومات غوړو ته رسیږي...

نو د دې ناروغۍ سمه معالجه هماغه ده چې د الله سبحانه و تعالی په شریعت کې وړاندې شوې او هغه دا ده چې دولت باید له هماغه لومړیو څخه دا ناروغي په جدیت تعقیب کړې وی او د هغې د پیل ټکي لپاره او د مخنیوي لپاره یې اړین ګامونه اخیستي وی او نورو سیمو خپل کار ته دوام ورکړی وی.

بخاري په خپل صحیح کتاب کې له اسامه بن زید او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا»**

*ژباړه: کله مو چې واورېدل چې په یوه ځمکه کې طاعون رامنځته شو هغې ځای ته مه ځئ او کله چې په داسې ځای کې اوسېدئ چې طاعون رامنځته شو له هغې څخه بهر مه ځئ.*

په بل حدیث کې د بخاري او مسلم په روایت چې الفاظ یې مسلم روایت کړي له اسامه بن زید څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

**«الطَّاعُونُ رِجْزٌ أَوْ عَذَابٌ أُرْسِلَ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَوْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَاراً مِنْهُ»**

*ژباړه: طاعون هغه عذاب دی چې پر بني اسرائیل یا له تاسو مخکې ځینو کسانو نازل کېده، نو که مو واورېدل چې په کوم ځای کې رامنځته شوی، هغې خوا ته مه ځئ او که په یوه داسه ځای کې وی چې هغه ځای کې رامنځته شو له هغه مه تښتئ.*

همداسې په بل روایت کې بخاري د رسول الله له مېرمن عائشه رضی الله عنه څخه روایت کړی چې ویلي یې دي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د طاعون په هکله پوښتنه وکړه:

**«أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللَّهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِراً مُحْتَسِباً يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ»**

*ژباړه: داسې عذاب دی چې الله سبحانه و تعالی پر هر چا چې وغواړي نازل کوي او الله هغه د مومنانو لپاره رحمت جوړ کړی هر څوک چې د طاعون د راتګ پر مهال په هماغه ځای کې پاته شي او صبر*

*وکړي او بوه شي چې د الله سبحانه و تعالی له غوښتنې پرته بل څه نه پرې نازلیږي، هغه ته به د شهید اجر ورکړل شي.*

دا خپله په یوه داسې یوه دولت کې قرنطین دی چې یو وخت کې د ټولو دولتونو سردار وو، هغه متمدن او پر مختللی دولت چې مشر یې رسول الله صلی الله علیه وسلم و او نبي یې و هغه رسول چې وحی ورته کېده او اسلام به یې پرې پلي کولو او په پلي کولو کې یې ښه بېلګه و. ابن حجر په فتح الباري کتاب کې لیکلي چې عمر رضی الله عنه شام ته تللی و، کله چې «سرغ» کلي ته ورسېده هغه ته یې خبر ورکړ چې په شام کې وبا ناروغي پیدا شوې، عبدالرحمن بن عوف عمر رضی الله عنه ته خبر ورکړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا فِرَاراً مِنْهُ»**

***ژباړه: کله مو چې واورېدل چې په یو ځای کې رامنځته شوی هغه ځای ته مه ځئ او کله چې په یو ځای کې وی او دا ناروغي رامنځته شوه له هغه ځایه مه تښتئ.***

عمر د دې حدیث په اورېدلو سره شام ته له تګ څخه منصرف شو او بېرته راستون شو، نو کله چې د طاعون د خپرېدو خبر یې واورېد مسلمانان یې راوګرځول.

نو دولت مسوولیت لري چې دا ډول ناروغۍ د رامنځته کېدو په ځای کې ایسارې کړي او د هغې ځای اوسېدونکي اړ کړي چې هماغه ځای کې پاته شي او د نورو ځایونو اوسېدونکي هغه ځای ته د ننه نشي. اسلامي دولت باید خپل مسوولیت په سمه توګه تر سره کړي ځکه چارې یې باید په امانت دارۍ تر سره شي همداسې د وبا ناروغیو په رامنځته کېدو سره دولت مسوول دی چې یاد شوي مسایل تر سره کړي. او مکلفیت لري چې ټولې صحي اړتیاوې، صحي خدمات او اړین درمل په وړیا توګه خپلو ټولو اتباعو ته ورکړي. روغتونونو، لابراتوارونو او نورو بنسټیزو اړتیاوو لکه ښوونه او روزنه او د اتباعو لپاره د امنیت ټینګښت د دولت دنده ده.

په ورته مسایلو کې صحي ګامونه دا دي چې وبا ناروغي په عاجله توګه ایساره شي ناروغان یې قرنطین شي او په وړیا توګه یې درملنه وشي او سالم کسان په عادي توګه خپل ټولنیز او اقتصادي ژوند د مخکې په شان پر مخ بوزي او نه دا چې عامه ژوند ودرول شي او په خپلو کورونو کې بندیان شي او په دې کار سره اقتصادي ژوند ته ضربه ورسیږي او د بحران پایلې لا زیاتې شي.

**دریم: پر نړیوال اقتصاد او د تېلو پر بیو د دغه ویروس اغېزې**

پوهېږو چې د نړۍ اوسنی اقتصاد په عادي حالت او د وبا په شتون کې کمزورې وده لري، نو د نړۍ اوسنی قرنطین او محدود حالت به څه اغېز ولري؟ په دې کې شک نشسته چې دغه اقدامونه به د نړۍ اقتصادي وده په بشپړه توګه ودروي او اغېزمنه به یې کړي:

دغه ویروس د نړۍ سوداګریز حرکت له پښو غورځولی او د تېلو بیې یې ډېرې راټیټې کړې دي. همدارنګه دغه چاره د روسیې او سعودي تر منځ د تېلو د بیو لوړېدو لامل شوې ده. روسیې په دغه دلیل چې صنعت یې تر ډېره پر تېلو راڅرخي، دې ته اړه شوې چې تولید یې ډېر کړي. بلخوا، امریکا سعودي عربستان دې

ته هڅولی، څو له روسيې سره د مخامخ کېدو لپاره د تېلو توليد ډېر کړي. د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۲۰ م د مارچ پر ۱۹مه روسيې ته ګواښ وکړ او ويې ويل: «په مناسب وخت کې به د روسيې او سعودي عربستان تر منځ د تېلو د بيې پر سره په جګړه کې ورګډ شم.» (سرچينه: االحره امريکا، ۲۰۲۰م د مارچ ۱۹مه)

سعودي عربستان هڅه کوي چې د امريکا د ګټو د خوندي کېدو لپاره د تېلو په بازار کې له روسيې سره جګړه وکړي، چې لومړی اقدام يې د توليد په برخه کې د دواړو لورو د هوکړې لغوه کول و؛ چې درې کاله يې دوام درلود. دغه دواړه هېوادونه په داسې حال کې په ټول وس تېل توليدوي چې تېلو ته نړيواله اړتيا د کورونا ويروس د خپرېدو په دليل د ټيټېدو په حال کې ده او دغه کار په روانه اونۍ کې د تېرو ۲۰ کلونو په پرتله د تېلو بيې په بېساري ډول راټيټې کړې دي.

څنګه چې د برنټ مخلوط د هرې بشکې بيه ۲۸,۷۵ ډالرو ته راټيټه شوه. که څه هم روسيه پر امريکا پورې د سعودي پر ترړل کېدو خبره ده. د وسنفت شرکت وياند ميخايل ليونتيف د روسيې خبري اژانس ته وويل: «د تېلو هغه ټول کميت چې د اوپک د څو اړخيزې هوکړې په غځېدو کې راټيټ شو، په چټکۍ او په بشپړه ډول په نړيوالو بازارونو کې د امريکا له خوا د تېلو د توليد د پارونې په وسيله جبران شو.» (سرچينه: رويټرز، ۲۰۲۰م د مارچ ۸مه)

د روسيې بازارونو په دې اړه هېڅ اقدام ونه کړ، خو سعودي عربستان د مخکنۍ هوکړې (۲,۱ ميليون بشکو تېلو د توليد ټيټېدو) د نه غځېدو او د توليد د ډېروالي پر بنسټ د روسيې پر وړاندې دغه کړکېچ نور هم پراخه کړ. څنګه چې د دوشنبې په ورځ تېلو يو پر دريمه برخه خپله بيه له لاسه ورکړه او په همدغه ترتيب په ۱۹۹۱ م کال کې د خليج تر جګړې وروسته دا په ورځني ډول د تېلو د بيې تر ټولو ډېره ټيټېدنه بلل کېږي.
په ۳۷,۰۵ ډالرو سره د برنټو پېر او پلور هم په هره بشکه کې ۲۲ سلنه ټيټوالی تجربه کړ، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې يې ۳۱,۰۲ ډالر په هره بشکه کې ۳۱ سلنه ټيټوالی تجربه کړی و؛ چې د ۲۰۱۶ م کال د فبرورۍ له ۱۲مې وروسته تر ټولو ستره ټيټېدنه وه».(سرچينه: رويټرز، ۲۰۲۰ م کال د مارچ نهمه)
له دې داسې معلومېږي چې امريکا پر خپلو اسيايي مزدورانو د تېلو بيه شپږ ډالر راټيټه کړه. دا چې روسيه يو ځل بيا د «اوپک پلس» هوکړې ته د بيرته ګرځېدو هوډ لري، د بيو په ټيټېدو کې يې مېړانه ښيي. له همدې امله نړيوال اقتصاد د کورونا ويروس د خپرېدو په پايله او د تېلو د بيو د ټيټېدو په ترڅ کې سخت ټکان خوړلی او که دغه حالت دوام وکړي، نړيوال اقتصاد به وپاشل شي...

**څلورمه: خو دا چې په مسجدونو کې لمنځونه وشي او که نه، بايد ووايو:**

د داسې ډول ناروغيو خورېدو په حالت کې د جماعت او جمعي لمنځونو په عام او بشپړه ډول پرېښودل او نه ادا کول جايز نه دي، بلکې يوازې بايد پر دې ناروغۍ اخته ناروغان قرنطين شي او هغوی ته پر جماعت د جمعې او ورته نورو لمنځونو کړلو او مسجدونو ته د داخلېدو اجازه ورنه کړله شي. په ورته وخت کې د پاکوالي او نظافت لپاره جدي تدابير ونيول شي، ضد عفوني شي او د اړتيا پر مهال له ماسک او ورته نورو څيزونو ګټه واخيستله شي.

روغ کسان دې له دمې پرته پر جماعت سره د جمعې او نورو لمنځونو ته دوام ورکړي او که اړتیا وي، روغتیایي ټیمونه دې په مسجدونو کې ځای پر ځای شي او پر کورونا وېروس اخته شکمن کسان دې معاینه کړي؛ خو په مسجدونو کې دې د روغو کسانو د جمعې او نورو لمنځونو کړلو ته له تعطیلۍ پرته دوام ورکړل شي. هغه دلیلونه چې د مسجد او د جمعې د لمنځونو په تړاو شته، د هغه تلپاتې کېدو او بندېدو ته یې هېڅ اشاره نه ده کړې. په ورته وخت کې دغه دلیلونه ښیي چې ډېرې کسان باید د دغو حکمونو په ترسره کولو کې شتون ولري. جزیات به یې په لاندې ډول څرګند کړو او دا هم باید ووایو چې ځینې مسلمانان د ځانګړي حالت په درلود سره په مسجد کې له شتون څخه معاف او ښنل شوي دي:

۱. د مسجد د لمانځه په تړاو باید ووایو چې فرض کفایي دی:

د مسجد لمونځ فرض کفایي دی، چې باید خلکو ته څرګند شي. ابو دردا رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې هغه وفرمایل:

**«مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمْ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدْ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمْ الشَّيْطَانُ، عَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْخُذُ الذِّئْبُ مِنَ الْغَنَمِ الْقَاصِيَةَ»**

***ژباړه:*** *هر کله چې درې کسان په یوه دښته کې وي او په جماعت سره لمونځ ونه کړي، شیطان به پرې واکمن شي. تل هڅه او پام کوئ، چې په یوه ټولي کې وئ،" ځکه لېوه له رمې په پاتې مېږه او پسه پسې ځي.*

دغه حدیث ابو داود له حسن اسنادو سره روایت کړی، چې د مسجد په لمانځه پورې اړه لري. د مسجد لمونځ فرض کفایي دی، ځکه ځینې مسلمانان د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې په لمانځه کې ګډون ونه کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته ګواښ وکړ؛ چې کورونو ته یې اور اچوي. وروسته یې هغوی پخپل حال پرېښودل. بخاري له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقاً سَمِيناً أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ»**

***ژباړه:*** *قسم په هغه ذات چې ځان مې د هغه په قبضه کې دی، قسم مې کړی، چې امر ورته وکړم، څو لرګي راټول کړي، وروسته د لمانځه کولو امر وکړم. یو تن د لمانځه لپاره اذان وکړي، وروسته یو کس ته د امامت امر وکړم او زه پخپله په هغو کسانو پسې لاړ شم، چې د مسجد په لمانځه کې یې ګډون نه دی کړی. زه به د هغوی کورونو ته اور ورته کړم. قسم په هغه ذات چې ځان مې د هغه په قبضه کې دی، چې که پر دې پوه شي، چې په مسجد کې غوړې ډوډۍ ته بلنه ورکړل شوې او په دوو نېزو به ښه ښکار ورکړل شي، هغوی به هرومرو د مسجد په لمانځه کې ګډون وکړي.*

نو که د جمعې لمونځ پر هر مسلمان فرض وی، نو رسول الله ص له دې خبرداري وروسته پر خپل حال نه پرېښود او په ډاډه سره ویلی شم چې موخه یې د جماعت لمونځ و، ځکه چې د ماخستن د لمانځه یادونه یې

کړې ده. د جماعت د لمانځه تر ټولو لږ شمېر د امام او مقتدي په ګډون دوه تنه دی، مالک ابن حويرث په دې اړه له رسول الله څخه يو حديث هم روايت کړی دی:

**«أَتَيْتُ النَّبِيَّ أَنَا وَصَاحِبٌ لِي فَلَمَّا أَرَدْنَا الْإِقْفَالَ مِنْ عِنْدِهِ قَالَ لَنَا إِذَا حَضَرَتْ الصَّلَاةُ فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا»**(مسلم)

***ژباړه:*** *زه له يوه کس سره يوځای رسول الله ص ته ورغلم، کله مو چې غوښتل له هغه صلی الله عليه وسلم څخه بېرته راوګرځو، راته ويې ويل، هروخت چې د لمانځه وخت راورسېد، اذان وکړی او په تاسو کې چې هرڅوک لوی و، هغه دې امامت وکړي. دغه حديث مسلم روايت کړی دی.*

د جماعت لمونځ له کوم شرعي عذر څخه چې د هغه په اړه به نص راغلی وي، لکه، په يخه شپه، سخت باران او له نورو استثناتو پرته هېڅکله يې پرېښودل جواز نه لري. د دليل په اړه يې بخاري له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يو حديث روايت کړی چې فرمايي:

**«كَانَ يَأْمُرُ مُؤَذِّناً يُؤَذِّنُ ثُمَّ يَقُولُ عَلَى إِثْرِهِ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ فِي اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ أَوْ الْمَطِيرَةِ فِي السَّفَرِ»**.

***ژباړه:*** *هغه صلی الله عليه وسلم به چې چاته د اذان امر وکړ، نو وبه يې فرمايل: لمونځونه مو د يخې شپې يا د سفر پرمهال د سخت باران له کبله په خپلو ځايونو کې وکړئ.*

**۲- د جمعې لمونځ فرض عين دی او له کوم شرعي عذر پرته يې پرېښودل جواز نه لري، چې په دې اړه ډېر دليلونه راغلي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:**

الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

**﴿إِذَا نُودِي لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾**

***ژباړه:*** *ای مومنانو! کله چې د جمعې د لمانځه لپاره اذان وشو، د الله د ذکر او عبادت پر لور بېړه وکړئ او ټول کارونه او چارې مو پرېږدئ. که پام وکړی، دا ستاسو لپاره غوره او ګټور دی.*

*په دې ايت کې امر پر وجوب او لازم والي دلالت کوي، ځکه چې په دې ځای کې له مباح د نهې قرينه پر جازمې غوښتنې دلالت کوي. دغه راز الحاکم په خپل کتاب* المستدرک کې په صحيحين ډول له طارق بن شهاب او هغه لهابوموسی څخه روايت کوي چې هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:

**«الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةٌ: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ»**

***ژباړه:*** *د جمعې لمونځ حق پر هر مسلمان واجب دی چې پر جماعت سره يې وکړي، بدون له څلورو ډوله کسانو څخه چې: هغه غلام چې واک يې له نورو سره وي، ښځه، ماشوم او ناروغ. حاکم وايي چې دغه حديث د مسلم او بخاري په شرط صحيح حديث دی.*

دغه راز د جمعې لمونځ پر هغو کسانو هم واجب نه دی، چې هلته له تګ وېره ورسره وي، ځکه چې ابن عباس رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ»**

***ژباړه:*** *چاچې د اذان غږ واورېدو او د هغه استجابت يې ونه کړ، له کوم عذر پرته د هغه لمونځ نه قبلېږي. وويل شول، يا رسول الله! په دې ځای کې عذر څه دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمايل: وېره يا ناروغي. دغه حديث په سنن کبری کې بيهقي روايت کړی دی.*

له همدې کبله د جمعې لمونځ له کوم شرعي عذر او نص پرته پر ټولو مسلمانانو فرض عين دی. دغه راز په دې اړه شرعي عذرونه هم په ښکاره ډول بيان شوي او پر هغه نور څه نه شي قياس کېدلی؛ ځکه چې شرعي عذر هغه څه ته ويل کېږي چې په هغې اړه واضح نص موجود وي او په عبادتونو کې قياس نه کېږي؛ ځکه چې په هېڅ نص کې د عبادت علت نه دی راغلی او چې علت نه وي، نو قياس نه شو کولی. د جمعې د لمانځه شرط دا دی چې يوشمېر مسلمانان بايد په هغه ځای کې حضور ولري، په دې اړه د د اصحابو اجماع هم دا په ډاګه کوي چې د جمعې د لمانځه ادا کولو لپاره بايد يوشمېر کسان حضور ولري. د کسانو د ځانګړي شمېر په اړه څه نه دي ويل شوي چې دا شمېره بايد څو تنه وي، يانې هغه شمېر کسان چې يوه ډله ورته وويلی شو، او حساب يې کړو، په دې مانا چې تعداد يې ډېر وي، د جمعې لمونځ کولی شي او لمونځ يې سم دی؛ ځکه چې د طارق په مخکنې روايت کړي حديث کې د دوی ډله يا ټولی ثابت شو. دغه راز د صحابوو شمېر هم په دې اړه دليل دی او د مشخص شمېر په اړه يې هېڅ ډول حديث نه دی راغلی. خو دا چې ډله يا ټولی درېيو او له درېيو ډېرو کسانو ته ويل کيږي، نو له همدې کبله دوو کسانو ته ډله يا ټولی نه شو ويلی. نو له همدې کبله د دې لپاره چې د جمعې لمونځ سم شي، نو بايد لږ تر لږه درې کسان چې د جمعې لمونځ پرې واجب وي، موجود وي، که دغه شمېر له دريو کسانو لږ وي، ټولی يا ډله نه ورته ويل کېږي، له همدې کبله يې د جمعې لمونځ هم سم نه دی. د جمعې د لمانځه لپاره د کسانو پر شمېر او ډله يا ټولي د صحابوو اجماع دليل دی.

له همدې کبله د خلافت په دولت کې جمعې او جماعت لمونځ هېڅکله نه رخصتېږي، بلکې يوازې هغه کسان چې شرعي عذر ولري، ګډون پکې نه کوي او نور کسان بايد پکې ګډون وکړي.

خو دا ادعا چې ښايي ټول به پر ناروغۍ اخته شي او په دې اړه هېڅ ډول تدابير هم مخنيوی نه شي کولای، بايد ووايم چې دا احتمال ډېر کمزوری دی، په ځانګړې توګه دې ته په پام سره چې د جماعت د لمانځه لپاره تر ټولو کم شمېر دوه او د جمعې د لمانځه درې تنه دی. که فرض کړو چې که دغه ډول احتمال هم موجود وي، يوازې په هماغه سيمه کې يې په اړه تدبير اړين دی، نه په نورو ځايونو کې. له همدې کبله دغه مسئله بايد په پوره غور او امانتدارۍ سره وڅېړل شي. داسې چې که په غالب ګومان تعداد يې محقق هم و، د جمعې او جماعت لمونځ نه رخصتېږي، بلکې په دې اړه پوره احتياطي تدابير نيول کېږي، ځکه چې احتراز د فرضو د پرېښودو په مانا نه دی، بلکې په دې مانا دی چې فرض بايد ادا شي، خو په ورته وخت کې بايد د ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره هم جدي تدابير ونيول شي.

په دې مسئله کې تر ټولو غوره حکم همدا و چې وړاندې بیان شو، که دولت بیا هم پرته له دې چې د غالب گومان د تحقق په اړه د خپل توان په اندازه هڅه ونه کړي او جوماتونه بند کړي، خلکو ته د جومات ته د تلو اجازه ورنه کړي، قطعاً د جومات د بندولو له کبله د لويې گناه مرتکب کېږي.

په پای کې باید ووېل شي، تر ټولو ستونزمنه او د اندېښنې وړ خبره دا ده چې د اسلامي هېوادونو حکام گام پر گام له استعماري کفارو تقلید کوي او د دوی لاره تعقیبوي. په دې مانا چې کله چې کفري دولتونو د یوې ستونزې او ناروغۍ په درملنه او حل کې پاتې راشي، دغه حکام هم له هغوی تقلید او پیروي کوي او که یوه حل لاره پیدا کړي، که سمه هم نه وي، د اسلامي هېوادونو خاین حکام ورته چکچکې وهي او هغه ورته شفا او په پوره مانا روغه او سمه ښکاري. دا ډېره د اندېښنې وړ ده چې اوسنۍ وبا( کرونا) به په هېوادونو کې د الله د بندگانو کموالي لامل شي، داسې چې اوس نږدې ده چې د خلکو عام ژوند نور په ټپه ودرېږي، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې هم په مسلمانانو ورته حالتونه راغلي دي. د بېلگې په توگه، د هجرت په اتم کال، کله چې مسلمانان له روم سره پر سختې جگړې بوخت وو، طاعون ناروغي راپیدا شوه. دغه راز دا امت د شپږمې هجري پېړۍ په نیمایي کې له یوې بلې بلا(شقفه) چې اوس ورته جمره وايي، مخامخ شو. هغه مهال دې ناروغي له شام څخه تر المغرب پورې ټولې سیمې ونیولې. په همدې ډول یوه بله ناروغي چې اوس هم له ډېرو جدي ناروغیو شمېرل کېږي، د خوشه يي مکورتونو( چې یو ډول باکتریاوې دي) له یوه کس څخه بل ته انتقالېږي. دغه راز مسلمانان د اتمې هجري پېړۍ په نیمایي (۷۴۹ هـ) کې په دمشق کې له یوه بل لوی طاعون سره مخ شول، خو له دې ټولو سره سره، په دغو حالتونو کې په هېڅ صورت نه د جومات دروازه وتړل شوه او نه هم خلک د جماعت او جمعې له لمانځه منعه شول، نه څوک په کورونو کې بندیان شول او نه هم بل داسې اقدام وشو. یوازې بله ناروغ او روغ کسان له یو او بل جدا کېدل او روغو کسانو د جهاد او ودانیزو کارونو په گډون خپلې چارې پرمخ وړلې، جوماتونو ته به تلل، او د الله سبحانه و تعالی په حضور کې به یې دعاوې کولې چې خدای یې د دغه ډول ناروغیو له شر څخه وساتي. سربېره پر دې به یې د ناروغ د درملنې لپاره اقدام کاوه او هغوی ته به یې ځانگړی پام کاوه. دا ده د حق لاره

﴿**فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ**﴾.

ژباړه: ایا له حق پرته له لاروركۍ بل څه هم شته؟

**۱۴۴۱هـ کال د شعبان ۸مه**

**۲۰۲۰ کال د مارچ ۲۶مه**